د وری ۱۸ ۱۳۸۸ ل کال

د افغانستان د بشری حقونو خپلواک کمیسیون په داسی حال کی د اهل تشیع د شخصیه احوال د قانون تدوین دهیواد د اساسی قانون د پلی کولو په لاره کی یو مثبت گام او د تشیع د مذهب د پیروانو د حقوقو په تامینولو کی یو مهم امر گڼی، خو د هغو مادو شتوالی چی غیر اصولی محدودیت چی د اساسی قانون او نړیوالو معاهدو د بشری قوانینو په هکله د ښځو پر حقونو باندی تحمیلیږی، ډیر سخت اندیښمن دی.

د افغانستان دولت د اساسی قانون د مادو په حکم مکلفیت لری چی داسی قوانین او شرایط راولی چی د افغانستان د خلکو د حقونو او آزادی د ودی او تقویی د پاره زمینه برابره او د کورنی سلامتی داسی تامین کړی چی د اساسی قانون په چوکات کی د ښځو دحقونو د برابری اصل تامین کړل شی.

د افغانستان د بشری حقونو خپلواک کمیسیون په کلکه باندی د حکوت او ملی شورا څخه غواری چی د هیواد والو د اساسی حقونو د ودی د اصل په نظر کی نیولو سره د شخصیه احوال قانون ته د بیا کتنی سره هغه د افغانستان د اساسی قانون او د افغانستان حکومت د نړیوالو بشری حقونو د قوانینو د ژمن شوی وعدو سره وگوری، هغه څه چی سر نخوری هغه ته پام وگرځوی.

د افغانستان د بشری حقونو خپلواک کمیسیون